مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱٦۳** (از ۱۱ الی ۱۸ ثور ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

### افزایش جرایم جنایی؛ عوامل و راه‌حل‌ها

- میزان جرایم در افغانستان ۱۳۸۷-۱۳۹۴ ........ ۴
- آمار ثبت ناشدهٔ جرایم ........ ۵
- افزایش جنایت‌های شنیع ........ ۵
- عوامل افزایش جرایم ........ ٦
- راه‌حل‌ها برای کاهش جرایم ........ ۷

### په افغانستان کې د انرژۍ وضعیت؛ ټوټاپ او کاسا-زر پروژې

- تاریخي شالید ........ ۸
- په افغانستان کې د انرژۍ سرچینې او تولید ........ ۹
- وارداتي برېښنا ........ ۱۰
- ټوټاپ او کاسا-۱۰۰۰ پروژې ........ ۱۱
- ټوټاپ د سیاسي کېدو له ګواښ سره مخ ده! ........ ۱۱

## مقدمه

د هېواد په کچه او په ځانګړي ډول لويو ښارونو او باامنه سيمو کې وخت ناوخت زړه‌بوږنوونکې جنايي پېښې کېږي. په وروستۍ دا ډول پېښه کې د اباسين په نوم يو ماشوم په ډېر ناوړه ډول د انسان‌تښتوونکو لخوا ووژل شو او دا پېښه په پراخ ډول په رسنيو کې منعکسه شوه. په ټوليز ډول په افغانستان کې د جنايي جرمونو کچه ډېره لوړه ده. که څه هم جنايي جرمونه په هره ټولنه کې وي، خو په افغانستان کې ولې ورځ تر بلې زياتېږي او د مخنيوي او يا لږترلږه کموالي لپاره يې څه کول پکار دي؟

د تحليل په دويمه برخه کې، په افغانستان کې د برېښنا سکتور د وضعيت او په دې وروستيو کې د انرژۍ د يوې پروژې پر سر راپوته شويو لانجو په اړه لولئ. تېره اوونۍ له ترکمنستان-ازبکستان-تاجکستان څخه افغانستان او پاکستان ته د انرژي د لېږد پروژې (ټوټاپ) د مسير په تړاو مدني فعالينو او ځينو سياسيونو اعتراضونه وکړل او داسې ښکاري چې دا پروژه د سياسي لوبې ښکار کېږي. په افغانستان کې د انرژۍ وضعيت، د دغه سکتور شاليد او راتلونکی څه ډول دي؟ همدا راز د افغانستان پر اقتصاد او انرژۍ سکتور د کاسا-زر او ټوټاپ پروژو اغېزې او دغه راز د ټوټاپ پروژې د مسير بدلېدو پايلې به څه وي.

د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل د ځانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# افزایش جرایم جنایی؛ عوامل و راه‌حل‌ها



پدیدۀ جرم یکی از مشکلات اجتماعی تمام جوامع بشری است، اما در افغانستان شنیع‌ترین و دلخراش‌ترین انواع آن به وقوع می‌پیوندد. رقم حوادث جرایم جنایی شنیع در افغانستان، روز به روز در حال افزایش است و باعث نگرانی جدی مردم گردیده است.

به تازه‌گی اباسین پسر ۱۴ ساله‌ی افغان که حدود پنج ماه پیش از ساحۀ کارتۀ نو شهر کابل ربوده شده بود، پس از شکنجه و قطع یک انگشت‌اش، به شکل بی‌رحمانه از سوی آدم‌ربایان به قتل رسیده و جسدش در اطراف کابل پیدا شد.[1] حادثۀ اختطاف و قتل اباسین واکنش‌های تندی را در پی داشت و شورای ملی افغانستان[2]، مردم عام و فعالان نهادهای مدنی خواهان تطبیق عدالت در این قضیه شدند. ریاست جمهوری افغانستان نیز با نشر اعلامیه‌ای[3] گفته است که «رئیس جمهور از وقوع این حادثه سخت متاثر شده و به ارگان‌های مربوطۀ دولتی به هدف تامین عدالت بالای عاملان این رویداد، دستور داده است».

موضوع اختطاف و قتل بی‌رحمانۀ این نوجوان به دست ربایند‌ه‌گان نخستین حادثه نبوده، بلکه در گذشته نیز بارها شاهد چنین حوادث دلخراش در نقاط مختلف کشور بودیم. سوال اینجاست که چه عواملی باعث افزایش جرایم شنیع در کشور شده است؟ و حکومت چه راه‌کار هایی را روی دست گیرد تا وقوع این جرایم را به حد اقل آن برساند؟

1 http://www.ufuqnews.com/archives/32576
2 http://da.azadiradio.com/a/27708677.html
3 http://president.gov.af/fa/news/76978

## میزان جرایم در افغانستان ۱۳۸۷-۱۳۹۴

جرم پدیده‌ای است که نمی‌توان آنرا به کلی از یک جامعه محو کرد، ولی می‌توان اقداماتی را در نظر گرفت که وقوع آنرا به حد اقل رساند.

به صورت کلی از سال ۱۳۸۷ به این‌سو میزان جرایم ثبت شدۀ جنایی در افغانستان سیر صعودی داشته است. در سال ۱۳۸۷ تعداد جرایم جمعاً به ٦۷۸٦ مورد می‌رسید، ولی این رقم تنها در سه ربع اول سال ۱۳۹۴ به ۱۴٦۱۹ افزایش یافته است. هرچند در برخی این سال‌ها تعداد جرایم نسبت به یک سال قبلش کاهش اندکی نیز داشت (به گونۀ مثال در سال ۱۳۸۹ از ۷۰۱۰ مورد، در سال ۱۳۹۰ به ٦۹۲۹ مورد کاهش یافت) اما در برخی سال‌های دیگر این رقم به گونۀ بی‌پیشنه‌ی افزایش یافت. به عنوان مثال، در سال ۱۳۹۲ تعداد مجموعی جرایم مختلف در کشور به ۲۷۱۲۲ مورد رسید. (برای جزئیات بیشتر به جدل-1 مراجعه نمایید)

### جدول-1: ارقام جرایم در افغانستان ( ۱۳۸۷- ۱۳۹۴)

| جرایم | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ | ۱۳۹۰ | ۱۳۹۱ | ۱۳۹۲ | سه ربع اول ۱۳۹۳ | سه ربع اول ۱۳۹۴ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قتل | ۱۰۷۵ | ۱۱۷۵ | ۹۸۳ | ۱۲۳۱ | ۱۹۴۸ | ۲۹۴۱ | ۱٦۲۸ | ۱٦۷۳ |
| اختطاف | ۲۷۹ | ۲۷۵ | ۱۳۰ | ۱۱۳ | ۱۹۵ | ۲۵۳ | ۱۴۹ | ۱۵۷ |
| قطاع الطریقی | ۱۱۹ | ۲۱۳ | ۱۲٦ | ۱۲۰ | ۱۷۷ | ۲۳۱ | ۱۸۵ | ۱۵۳ |
| تجاوز جنسی | ۲۲۵ | ۲۸۱ | ۲۴۷ | ۲۸۱ | ۴۰۷ | ۹۹٦ | ۳۱۷ | ۳۱۸ |
| سرقت | ۱۴۹٦ | ۱۳٦۵ | ۱۳۴۱ | ۱۲۹۰ | ۲۵۰۴ | ۴۱۹۱ | ۲٦۱۰ | ۲۲۴۴ |
| جرح | ۱۴۹۹ | ۱۰۹۰ | ۱۰۵۲ | ۱۰۰۲ | ۲۹۸۷ | ۵۹۸۰ | ۲۳۱۱ | ۲۸٦۸ |
| سائر جرایم | ۲۰۵۲ | ۲۷۸۹ | ۳۰۹۸ | ۲۸۷۲ | ۷۳۵۱ | ۱۲۲۳۹ | ۷٦۴۱ | ٦٦۴۷ |
| مجموع جرایم | **٦۷۸٦** | **۷۱٦۴** | **۷۰۱۰** | **٦۹۲۹** | **۱۵۵۹۳** | **۲۷۱۲۲** | **۱۵۰۵۰** | **۱۴٦۱۹** |

ماخذ: شاخص‌های احصائیوی سالانه و ربع‌وار ادارۀ مرکزی احصاییه (۱۳۸۷-۱۳۹۴)

## آمار ثبت ناشدۀ جرایم

آماری را که در اینجا ذکر کردیم، آمار جرایمی است که گزارش داده شده و توسط نهادهای مربوطه ثبت گردیده است، در حالیکه آمار و ارقام اصلی جرایم در کشور خیلی بیشتر از این می‌باشد. بربنیاد یک سروی ایشیا فاوندیشن، گزارش‌های ۴۹٪ از جرایم به مراجع دولتی نرسیده و به همین دلیل ثبت نیز نشده‌اند.

فساد در ادارات، عدم بازداشت مجرمین و در صورت بازداشت دوباره رها شدن آنها، حاکمیت ضعیف حکومت در مناطق دور دست، پروسیجر طولانی اداری در هنگام گزارش دادن جرایم، بی‌باوری بالای حکومت، دخالت زورمندان در این‌گونه مسائل را می‌توان از عواملی دانست که باعث ثبت نشدن بخش بزرگی از جرایم جنایی در کشور گردیده‌اند.

## افزایش جنایت‌های شنیع

باوجود کاهش در میزان مجموعی جرایم، تعداد جرایم شنیعی چون قتل و قطاع الطریقی افزایش یافته است. چنانچه در سال ۱۳۹۰ رقم قتل‌ها بیشتر از سال‌های دیگر بود، اما ما شاهد کاهش نسبی جرایم در کشور بودیم. همچنان با مطالعۀ ارقام مجموعی جرایم در سه ربع اول[4] سال‌های ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴، درمی‌یابیم که در سه ربع اول سال ۱۳۹۴، مجموع جرایم نسبت به سه ربع اول در سال ۱۳۹۳، کمتر می‌باشد، اما ارقام اختطاف، قتل و جرج نسبت به سال گذشته افزایش یافته است.

اگر به ارقام قتل در چند سال گذشته نگاه کنیم در می‌یابیم که به استثنای سال ۱۳۸۹ این ارقام همه‌ساله رو به افزایش بوده است. مثلاً در سال ۱۳۸۷، ۱۰۷۵ مورد قتل صورت گرفته در حالیکه تنها در سه ربع سال‌های ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴ بیشتر از ۱۶۰۰ حادثۀ قتل در کشور صورت گرفته است. (جدول-1)

از سوی دیگر، محاسبات غیر رسمی نیز میزان مجموعی جرایم افزایش چشمگیری را نشان می‌دهد. تنها در شهر کابل در جریان سه هفتۀ اول ماه دلو ۳۱۸ حادثۀ جنایی رخ داده است.[5] و همه‌روزه ده ها واقعۀ جرمی و جنایی تنها در شهرهای بزرگ کشور روی می‌دهد.

[4] تا حال تنها ارقام سه ربع سال‌های ۱۳۹۳ و ۱۳۹۴ از سوی ادارۀ مرکزی احصائیه نشر گردیده است.

[5] http://markazipress.com/318

افزایش جرایم چون اختطاف، برعلاوۀ تأثیرات سوء بر روان و زنده‌گی مردم، بر اقتصاد کشور نیز تأثیرات بدی داشته است. اختطاف تاجران و افراد خانواده‌ه ای شان از جاهای امن شهرهای بزرگ کشور، باعث شده تا تاجران و سرمایه‌گذاران از فعالیت‌های اقتصادی در کشور دلسرد شوند.

بعد از سال ۲۰۱۴ عدۀ زیادی از سرمایه‌داران به دلیل نگرانی از ثبات و امنیت در کشور سرمایه‌های خویش را از افغانستان خارج نمودند. جرایم، اختطاف و سرقت از جمله جرایمی اند که بیشتر قربانی آن‌ها تاجران و افراد سرمایه‌دار می‌باشند که این وضعیت آن‌ها را از کار و سرمایه‌گذاری در افغانستان مأیوس ساخته و باعث فرار بقیه سرمایه‌ها از کشور می گردد.

## عوامل افزایش جرایم

بر اساس یک سروی، از سال ۲۰۰۹ الی ۲۰۱۴ به طور اوسط ٪۲۰.۱۷ مردم بی‌کاری، ٪۱۳.۱۷ فساد اداری، ٪۷.٦۷ بی‌سوادی، و ٪۷.۷ مردم، فقر را از بزرگترین عوامل جرایم به شمار آورده‌اند. در اینجا عوامل عمدۀ جرایم را چنین برمی‌شماریم:

**۱. فساد اداری و عدم تطبیق قانون:** بربنیاد گزارش سالانۀ سازمان بین‌المللی شفافیت (Transparency International)، افغانستان در سال ۲۰۱۵ دومین کشور فاسد جهان شناخته شد[6] و بر اساس سروی دیدبان شفافیت افغانستان در سال ۲۰۱۴، ارگان‌های عدلی و قضایی ٪۳۴ و پولیس ٪۲٦ فاسدترین ارگان‌ها شناخته شده بودند.[7] بنابراین، فساد در این ارگان‌ها نقش برازنده‌ی در افزایش جرایم جنایی دارد، چون مجرمین توسط پولیس بازداشت و توسط ارگان‌های عدلی و قضایی مورد پیگرد قانونی قرار می‌گیرند. از سوی دیگر ضعف و نامسلکی بودن نیروهای امنیتی باعث شده تا نه تنها در جلوگیری چنین رویدادها ناکام بمانند، بلکه در بعضی مواقع در ارتکاب چنین جنایات همکار نیز باشند.

**۲. بی‌کاری:** سطح بی‌کاری در افغانستان به خصوص در سال‌های اخیر به اوج خود رسیده است و بیشتر جوانان بی‌کار برای کسب درآمد از راه‌های نامشروع، دست به چنین وحشت‌ها و جنایات می‌زنند.

---

[6] http://csrskabul.com/pa/?p=1967

[7] http://www.baag.org.uk/sites/www.baag.org.uk/files/resources/attachments/IWA%20national_corruption_survey_2014_english.pdf

**۳. زورمندان و سیاسیون:** شماری از زورمندان و سیاسیون به دلیل منافع شخصی شان از مجرمین در برابر قانون دفاع می‌کنند. همین دلیل است که در روز روشن و در مناطق امن شهرهای بزرگ کشور با استفاده از موترهای شیشه‌سیاه، جرایمی چون قتل و اختطاف به وقوع می‌پیوندند.

**۴. تهاجم فرهنگی:** اگر به گراف جرایمی چون قتل ، تجاوز جنسی و جرایم همانند آن توجه کنیم، شاهد افزایش همه‌سالۀ این موارد هستیم. یکی از مهمترین عامل افزایش این موارد، نشر سریال‌ها و برنامه‌های مبتذل، غیر اخلاقی و خلاف فرهنگ و دین مردم افغانستان می‌باشد. این‌گونه نشرات نیز از عوامل عمدۀ افزایش جرایم در کشور شمرده می‌شود. در حالیکه یکی از راه‌هایی که در کاهش جرایم جنایی در جامعه کمک می کند، جلوگیری از نشرات مبتذل در رسانه‌ها و بجای آن نشر برنامه‌های مفید و آگاهی دهنده می‌باشد.

**۵. حمل سلاح غیرقانونی و افراد مسلح غیرمسئول:** در جریان جنگ‌های چند دهۀ گذشته، در هر گوشه و کنار کشور سلاح توزیع گردید. گرچند از سال ۲۰۰۵ به این‌سو تلاش‌هایی برای جمع‌آوری این سلاح‌ها نیز صورت گرفت، ولی باز هم سلاح بدون مجوز در همه مناطق کشور هنوز هم وجود دارد. به گونۀ مثال چندی پیش در نتیجۀ یک درگیری افراد مسلح غیرمسؤول در یک محفل عروسی در بغلان 22 تن کشته شدند.[8]

## راه‌حل‌ها برای کاهش جرایم

- حکومت باید اقدامات و راه کارهای جدی و موثر برای جلوگیری از فساد اداری در ارگان‌های عدلی و قضایی و نیروهای امنیتی روی دست گیرد، چون فساد در این ارگان‌ها از عوامل عمدۀ افزایش جرایم در کشور می‌باشد.
- ارگان‌های ضد-جرایم تقویت شوند و در کنار آموزش کارمندان این ارگان‌ها، معاشات آن‌ها نیز افزایش یابد تا میزان فساد اداری در این ارگان‌ها کاهش یابد.
- اقدامات جدی و عملی جهت اشتغال‌زایی روی دست گرفته شود، تا برای جوانانی که در اثر بی‌کاری دست به چنین وحشت‌ها می‌زنند، مصروفیت‌هایی ایجاد شوند.
- موقف حکومت و ارگان‌های عدلی و قضایی در برابر مجرمین جنایی سخت‌تر و محاکم علنی برگزار گردد تا از لحاظ شعوری تمایل مجرمین به ارتکاب جرم از بین برود و یا حد اقل کم شود.
- از نشرات مبتذل و مغایر با آموزه‌های دینی، قوانین و فرهنگ کشور در رسانه‌ها جلوگیری گردد.

[8] http://da.azadiradio.com/a/27156233.html

# په افغانستان کې د انرژۍ وضعیت؛ ټوټاپ او کاسا-زر پروژې



تېره اوونۍ په افغانستان کې د انرژۍ د یوې پروژې (ټوټاپ) د مسیر د بدلون په تړاو د یو شمېر سیاسیونو او مدني فعالانو د اعتراضونو او دغه راز د حکومت د غبرگون شاهد وو. د دې ترڅنگ ټاکل شوې چې د یوې بلې پروژې (کاسا-۱۰۰۰) عملي کار هم د روانې مې میاشتې پر ۱۲مه (۲۰۱٦) پیل شي.

په دغه تحلیل کې، په افغانستان کې د انرژۍ سکتور شالید، د دغه سکتور اوسنۍ او راتلونکی وضعیت، د افغانستان پر اقتصاد او انرژۍ پر وضعیت د کاسا-زر او ټوټاپ پروژو اغېزې او دغه راز د ټوټاپ پروژې په تړاو د وروستیو ناندریو په تړاو، شننه کوو.

## تاریخي شالید

که څه هم په لومړیو وختونو کې د افغانستان خلکو، له تېلو او ډېرو سکرو څخه د انرژۍ په توگه گټه اخیسته؛ خو د ۱۹مې پېړۍ په پای کې امیر عبدالرحمان خان له برېښنا څخه د گټې اخېستنې لپاره یو شمېر اقدامات وکړل او یو داسې ډاینمو یې جوړ کړ، چې ۴۰ څراخونه یې بلولای شول. وروسته د امیر حبیب الله خان په دوره

کې له بټریو برېښنا ترلاسه کېده او ارګ به یې روښانه کاوه. پر همدغه دوره کې په جبل السراج کې د اوبو پر برېښنا-فابریکه کار پیل شو او بیا د امیر امان الله خان د واکمنۍ پرمهال بیا له دغې فابریکې څخه ګټه واخیستل شوه. وروسته بیا د برېښنا د توزېع په موخه د «تنویراتو شرکت» بنسټ کېښودل شو، چې تر ۱۳۰۷ لمریز کال پورې یې په کابل ښار کې ۱۸ زره څراخه برېښنا په کورونو وېشلې وه[9].

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د شورویانو تر یرغل پورې بیا په افغانستان کې د بېلابېلو هېوادونو په مرسته د کجکي، ماهیپر، نغلو، درونټې، ګرېشک، دهله، چک وردګ، سلما او نور برېښنایي بندونه جوړ شول. خو د شورویانو یرغل او وروسته بیا د افغانستان کورنۍ جګړې تر ډېره دغو بندونو ته په پراخه کچه تاوانونه ورسول. له ۲۰۰۱ کال وروسته، یو شمېر هڅې وشوې، ترڅو دغه بندونه بیا ورغول شي؛ خو بیا هم په مجموعي ډول په بشپړه توګه د خپلو وړتیاوو په پرتله، نه دي فعال شوي.

## په افغانستان کې د انرژۍ سرچینې او تولید

افغانستان د انرژۍ پرېمانه سرچینې لري، له لمري سرچینو نیولې تر اوبو، تېلو، ګازو، ډبرو سکرو او هوا پورې. افغانستان په شمسي برخه کې د ۲۲۳ زره، له اوبو څخه د ۲۳ زره، له ګازو څخه د ۶۰۰ او له هوا څخه د ۶۸ زره مېګاواټه برېښنا تولیدولو وړتیا لري.

خو له دغو وړتیاوو سره سره، اوس یوازې دوه زره مېګاواټه برېښنا هم په هېواد کې دننه نشي تولیدېدای او ډېرې اتکا په وارداتي برېښناوو ده. د بېلګې په ډول په ۱۳۸۵ لمریز کال کې د هېواد دننه ۹۱۶.۸۹ میلیون کیلو واټ\ساعت برېښنا تولیدېده، چې د اوبو برېښنا پکې (۶۴۵.۹۷ میلیون کیلوواټ\ساعت)، حرارتي برېښنا (۲۶۷.۳۷میلیون کیلوواټ\ساعت) او ډیزلي برېښنا (۳.۵۶میلیون کیلوواټ\ساعت) وه. په ورپسې کلونو کې دغو ارقامو هر کال توپیر درلود، کله به زیاتېده او کله هم کمېده. په ۱۳۹۱ کال کې د هېواد دننه د برېښنا تولید په مجموعي ډول ۸۸۲.۹، په ۱۳۹۲ کال ۱۰۲۲.۳ او په ۱۳۹۳ کال ۱۰۴۹ میلیون کیلوواټ/ساعت و.

همدا راز کال په کال د افغانستان د برېښنا شرکت مراجعین زیات شول. په ۱۳۸۲ کال کې دغه شرکت ۲۲۷۸۵۴ مراجعین درلودل خو په ۱۳۹۳ کال کې بیا له یو میلیون څخه زیات شول (۱.۱۵۴۷۹۸ میلیون). (جدول-۱)

---

[9] حبیب الله رفیع، د تمدن سوغات، پېښور: د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، ۱۳۷۸، مخ ۱۰-۱۲

**جدول-1: په افغانستان کې د برېښنا د تولید سرچینې (ملیون کیلوواټ\ساعت)**

| د برېښنا د تولید فابریکې | 1391 | 1392 | 1393 |
|---|---|---|---|
| | 2012-13 | 2013-14 | 2014-15 |
| مجموعه | 882.9 | 1022.3 | 1049.0 |
| د اوبو برېښنا | 708.6 | 803.9 | 895.0 |
| حرارتي برېښنا | 107.1 | 108.5 | 81.1 |
| ډیزلي برېښنا | 67.2 | 109.9 | 72.9 |

*ماخذ: د افغانستان احصایوي کلنۍ*

## وارداتي برېښنا

له ۱۳۸۱ کال راهیسې په هېواد کې د بیارغونې چارې پیل شوې او په منځ ترځ کې د برېښنا د بندونو پر بیاجوړولو هم کارونه پیل شول (که څه هم تر اوسه پورې د ځینو بندونو توربینونو په سم ډول نه دي فعال شوي؛ خو بیا هم د برېښنا د تولید په برخه کې د هېواد یوه برخه تقاضا بشپړوي).

د دې ترڅنګ له بهر څخه په تېره بیا له ایران، ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان څخه هم برېښنا وارده کړای شوه. که د افغانستان د برېښنا شرکت هغو ارقامو ته پام وکړو، چې له ۲۰۰۷ کال څخه یې تر ۲۰۱۵ کال پورې پر دغه وارداتي برېښنا ولګول، نو څرګندېږي چې د افغانستان برېښنا شرکت تر اوسه تقریباً ۹۷۳ میلیون ډالره پرې لګولي دي.

په بل اړخ کې د افغانستان د احصائیې مرکزي اداري د ارقامو له مخې، پر افغانستان باندې له ۱۳۸۵ کال څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې ۴۱۹۰۷.۴ میلیونه افغانۍ برېښنایي لګښتونه راغلي دي. د دغو ارقامو له مخې هر کال پر وارداتي برېښنا لګښتونه زیات شوي، د بېلګې په ډول په ۱۳۸۵ کال کې افغانستان د ۹۹.۷۹۰ میلیون افغانۍ برېښنا واردوله، خو په ۱۳۹۳ کال کې دغه شمېره ۱۰٦۳۰.۴ میلیون افغانۍ ته ورسېدله. (د نورو معلوماتو لپاره وګورئ جدول-2)

**جدول-2: افغانستان ته د وارداتي برېښنا لګښتونه (مليون افغانۍ)**

| مجموعي لګښت | کلونه | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1385 | 1386 | 1387 | 1388 | 1389 | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 |
| | 790.99 | 1035.7 | 1064.9 | 1873.1 | 3875.2 | 5948.1 | 7045.7 | 9643.4 | 10630.4 |

*ماخذ: د افغانستان احصايوي کلنۍ*

د برېښنا په سکتور کې د افغانستان ورتیاوو ته په کتلو سره ویلای شو، که د افغانستان د برېښنا سکتور کې پانګونه وشي او له دغو ړتیاوو څخه په سمه توګه ګټه پورته شي، نو دا به د برېښنا وارداتي لګښتونو متبادل وګرځي او افغانستان به نور د میلیونونو ډالرو په مصرفولو د برېښنا واردولو ته اړتیا ونه لري.

## ټوټاپ او کاسا-۱۰۰۰ پروژې:

### ټوټاپ د سیاسي کېدو له ګواښ سره مخ ده!

د ټوټاپ او کاسا-زر پروژې د منځنۍ آسیا برېښنا سوېلي آسیا ته لېږدوي. د افغانستان د اقتصاد لپاره د دغو دوو لویو پروژو ارزښت په دې کې دی، چې نه یوازې دا چې د افغانستان د برېښنا کمبود بشپړوي، بلکې له پاکستان څخه ترانزیټي فیس هم ترلاسه کوي.

کاسا زر پروژه به د قرغزستان او تاجکستان تقریباً ۱۳۰۰ مېګاواټه برېښنا، افغانستان او پاکستان ته ولېږدوي او د ټوټاپ پروژې له لارې به بیا له ترکمنستان-ازبکستان-تاجکستان څخه، افغانستان او پاکستان ته برېښنا صادره شي. ښايي د کاسا-زر پروژې پرانیستغونډه به په روانه اوونۍ کې وشي؛ خو د ټوټاپ پروژې د مسیر په تړاو اوس په هېواد کې دننه بحثونه راپورته شوي دي.

د حکومت دننه او دباندې ځینو معترضینو د برېښنا د مسیر بدلولو په اړه حکومت ته ګواښ کړی، که چیرې د بامیانو له لارې د برېښنا مزي ونه غځول شي، نو دوی به پراخ لاریونونه وکړي. خو دغه کاملاً یوه تخنیکي ستونزه ده، چې باید سیاسي چلند پکې ونشي او سیاسیون پر ملي وحدت حکومت له فشار واردولو ډډه وکړي.

که څه هم د جرمني فېشر کمپنۍ په خپله څېړنه کې د دغې پروژې لپاره د بامیانو لاره غوره کړې وه او هله یې ګټوره بللې وه، چې که چینایان په مېس عینکو کې برېښنا فعاله او بیا دغه برېښنا له همدې لارې کابل ته

ولېږدول شي. د مسیر د بدلولو پریکړه بیا د حامد کرزي په دویمه دوره کې، چې کریم خلیلي یې دویم مرستیال و، وشوه او دغه مسیر یې د سالنگ لارې ته بدل کړ. هغه مهال پرې چا اعتراض او نیوکې ونه کړې؛ خو اوس چې پر دغې پروژې عملي کار پیلېدونکی دی او نړیوال مرستهکوونکي هم ورسره مرستې ته چمتو دي، نو دغه بحث راپورته شو او ځینو سیاسیونو هم داسې مهال ملاتړ ترې وکړ، چې د ملي وحدت حکومت له ډېرو ننگونو سره مخ دی.

که اوس د دغې پروژې مسیر بدل کړل شي، نو لاندې منفي پایلې به ولري:

- د دغې پروژې عملي کول به لږتر لږه تر دوو نورو کلونو پورې وځنډول شي؛
- د سالنگ پر لاره چې څومره څېړنې شوې، هغه لگښتونه او وخت به ضایع شي؛
- له سالنگ څخه بامیانو ته د مسیر بدلولو له کبله به د لارې اوږدوالی له ۸۰ څخه تر ۱۲۰ کیلومترو پورې نور هم اوږد شي؛
- د لارې د اوږدېدو له کبله به اضافي لگښتونه راشي (لکه د لین، سبستېشن جوړول او نور)؛
- له دغې پروژې سره روان سیاسي چلند شاید نړیوال مرستهکوونکي د هېواد په اوږدمهاله او لویو پروژو کې له پانگونو او مرستو څخه په شا کړي؛
- دغه روان حالت به د حکومت پاملرنه ډېر دېخوا کړي او په هېواد کې به اختلافات پراخ کړي.

له دې وراخوا، افغان حکومت باید د بامیانو د خلکو اساسي غوښتنو ته هم پاملرنه وکړي او هلته د برېښنا کمبود د چاریکارو او یا کومې بلې لارې لخوا پوره کړي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.